مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۲۱

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (اووه اتیایمه برخه)

## حاجي رحمٰن قـُل

د پامیر د اورغیزیانو قومي مشر. وروسته له دې چې په چین کې کمونیستانو واک ونیوهٔ، دی د چین د سینک یانګ له ولایت ‌ ‌ځخه راوتښتیـد. دی بډای سړی دئ چې څه دباندې ۲۰۰۰ تـنه پیروان کنترولوي. زامن ئـې : عبدالوکیل، عبدالواحد، عبدالملک، مـحمد اکبر او محمد عارف. له خپلو ټولو پیروانو سره پاکستان ته وتښتـیـد او له هغهٔ ځایه وروسته د ترکیې په اناتولیې کې مېشت سو.

## سید رحمت الله رحمت

د سید نعمت الله زوی په ۱۹۱۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې ئـې کړي دي. د حکومت په بېلابېلو ارګانونو کې ئـې کار کړی دئ. په ۱۹۴۷ز کال کې د قطغن د مطبوعاتو مشر. شاعر او لیکوال او اکثریت لیکني ئـې د اتحادِ بغلان په نشریې کې چاپ سوي دي.

## مـحـمد اعظم رهنورد

په ۱۹۴۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. له لیسي ځخه له فارغـېدلو وروسته ئـې د کابل په پوهنتون کې ژورنالیزم لوستی دئ. د ژوندون د مجلې راپورتر. په لندن کې ئـې زده کړې وکړې او په ژورنالیزم کې ئـې ډیپلوم تر لاسه کړ. افغانستان ته له راستـنـېدلو سره سم د اصلاح او انیس د ورځپاڼو مدیر. د آریانا محرر. لومړنی لنډ داستان ئـې په ۱۹۶۱ز کال کې د پـښـتون ږغ په مجلې کې خپور سو. په ګڼ شـمـېر ورځپاڼو او مجلاتو کې د مقالاتو لیکوال. د رهنورد یو شمـېر کره کتـنې / نقدونه او ژباړې د "زار" او "ناب" په مستعارو نومونو چاپ سوي دي. په ۱۹۸۰ز کال کې د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د "کلتور او هنر" [1] د اداري رئیس.

## همایون راهیار

د عبدالغفور امیني زوی په ۱۹۵۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د سید جمال الدین افغاني له لیسي او په ۱۹۷۱ز کال کې د غازي له لیسي ځخه فارغ سوی دئ او په ۱۹۷۵ز کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي د دري له

[1] -Culture and Arts


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ديپارتمنټ څخه د ليسانس په درجې فارغ سوی دئ. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د سيد جمال الدين افغاني د دارالمعلمينو استاد. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۰ز کال پورې بې کار. له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۱ز کال پورې د معارف د وزارت د تأليف او ترجمې د رياست کارمند. لومړی لندن ته او بيا په ۱۹۸۲ز کال کې د امريکا متحده اياالاتو ته لاړ. شاعر.

**قيام الدين راعي** : وګورئ : برلس

## محمد ابراهيم رجائـي

د ملا محمد عمر زوی په ۱۹۱۵ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. لومړنی زده کړې ئـې په سيمه ييزو ښوونځيو بشپړې کړي دي. په ۱۹۳۴ز کال کې د هرات د ادبي ټولنې د مدير مرستيال او وروسته د همدې ټولنې مدير. په ۱۹۳۹ز کال کې په کابل کې د بورې د فابريکي مدير. د پسـتې[2] د کمپنی مرستيال مدير. د هرات د ادبي ټولنې مدير. شاعر.

**محـمـد کبير** : وګورئ : رنجبر

## عبدالاحد رقيم

د حاجي محـمـد حسين زوی په ۱۹۱۱ز کال کې د بلخ په سمرقنديانو کې زېږېدلی دئ. په کور کې د لومړنيو زده کړو له بشپړولو وروسته ئـې په بـېلابـېلو اسلامي مدرسو کې زده کړې کړي دي. په ۱۹۲۷ز کال کې د مزار شريف د «بيدار» د نشريې مصحح. په ۱۹۳۱ز کال کې د «بيدار» مرستيال اداري مدير. په ۱۹۴۴ز کال کې د مزار شريف د خبري آژانس مشر. په ۱۹۴۹ز کال کې د بلخ د مجلې مدير. ليکوال او شاعر.

## عبدالشکور رشاد

په ۱۹۲۱ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ، پلار ئـې عبدالغفور نومېـدهٔ. تحصيلات ئـې خصوصي دي. له ۱۹۳۵ تر ۱۹۴۲ز کال پورې ښوونکی. په ۱۹۴۶ز کال کې د کندهار د ښاروالی رئـيس. په ۱۹۴۷ز کال کې د کندهار مرستيال ښاروال. له ۱۹۴۸ تر ۱۹۵۵ز کال پورې په هندوستان کې د ميوې د صادراتو د کمپنی استازی. په ۱۹۵۶ز کال کې د پښتو اکاډيمی غړی او وروسته ددې اکاډيمی مرستيال رئـيس. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۴ز کال پورې ئـې د لېننګراد په پوهنتون کې د پښـتو ژبې او د پښتو ادب تدريس وکړ. استاد رشاد يو ژب پوه او فيلسوف وو. په ۱۹۶۵ز کال کې د کابل په پوهنتون کې د پښـتو پوهاند/ پروفيسر. په ۱۹۶۶ز کال کې د «مساوات» ناشر. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۸ز کال پورې له سياسي اړخه له ميوندوال سره متحد وو. له ۱۹۷۸ز کال راهيسې متقاعد. [ د علامه استاد عبدالشکور رشاد د ژوند په هکله د استاد د زوی ډاکټر طارق رشاد په قلم ليکل سوی ژوند ليک ولولئ- ژ ][3]

---

[2] -Pistachio

[3] - د افغانستـــــان او سيمي وتلـی او نامتـو عالـم ،څېړونکی، مؤرخ، ليکوال او شاعر
اکاډيميسن پوهاند رشاد د ۱۹۲۱ م کال د نومبر پر ۱۴ ( د ۱۳۰۰ ل کال دلړم د مياشيتي پر درويشتمه نېټه ) چې له لويي برتانيې څخه زموږ دګران هيواد افغانستان د سياسي خپلواکۍ دوه کاله تېر سوي وه د کندهار ښار د بابړو د کوڅې په يوې مخوري او درنې کورنۍ کې سترګي دې نړۍ ته پرانيستې ، چې دې کورنۍ د سوداګرۍ تر څنګ دعلم او پوهې سره ښه مينه درلوده او پلار يې اروابناد عبدالغفور خان دمروجو علومو د مطالعې خاوند او پر خپلې مورنۍ ژبې سربېره يې ، په پاړسي عربي ، اردو او انګريزي ژبو پوهيدی او نيکه يې حاجي محـمد اياز خان دخپل وخت مشهور سوداګر او ورنيکه يې ( غور نيکه ) محمد جان خان ، تر نيکه يې نېك مـحمد خان او سرنيکه يې لکي صاحب خان چي ديو لك سکو خاوند او د معاصر افغانستان دبنسټ ايښودنکي ستر احمدشاه بابا ( ۱۷۴۷ ? ۱۷۷۳ م ) د وخت له مشهورو خلکو څخه و.

دا کورنۍ پخوا د پاچا جوړونکو ( King Makers ) کورنيو څخه بلل کېده ، لکه نور محـمد خان بابړ چي ( مستوفي الممالك ) او ګل محـمد خان بابړ چي د




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

( امين الملك ) دنده سرته رسوله او دافغانستان ټولي اقتصادي او دهغه دپلان چاري ور دغاړي وې ، دلوي احمدشاه بابا سره يې كورنۍ دوستي هم درلوده او دهغه د لمسي شهزاده زمان چي وروسته له خپل پلار تيمور شاه څخه پر تخت كښېناست او دشاه زمان په نوم يې شهرت تر لاسه كړ ، خسر يې هم و

داستاد رشاد په روزنه او پالنه كي په لومړي ګام كي دهغه فاضل پلار مهمه ونډه درلوده ، لكه چي دی خپله د ګوربت مجلې سره په مركه كي وايې:
" زما لومړی استاد زما پلار و ، پر هغه دي خدای ﷻ ورحميږي زه يې روزلی ، خو متاسفانه چي د هغه سيوری په ۱۳ كلنۍ كي زما له سره څخه ليري سو او ما دده له ټول فضيلت څخه استفاده ونه سوه كړاي ، تقريباً ۶۹ ( اوس ۷۳ ) كاله وړاندي ما انګرېزي الفبا له پلاره زده كړې او عربي كتابونه مي هم تر مختصر پوري له پلاره سره ويلي دي ، پاړسي كتابونه مي لكه ګلستان ، بوستان ، حافظ او نور ټول له پلاره سره لوستي ، البته نور استادان مي هم درلوده، خو لومړی استاد مي پلار و
."

او همدارنګه د افغانستان په نوم كوم اخبار چي په لاهور كي خپرېدی او پښتو برخه يې درلوده ، د دوی پلار ته را استول كېدی او هغه يې مطالعه كاوه .خو د خپلي ځيركتيا له امله ډېر ژر په ۱۹۳۳ م كال كي په لومړي درجه له ښوونځي فارغ او په ۱۹۳۴ م كال يې پر ديارلس كلنۍ د ښوونكي په توګه رسمي ماموريت پيل كړ ، چي د پوهي او سن د لږوالي له امله يې په كوچني ښوونكي ډېر شهرت پيداكړ چي حتی ډېر شاګردان به يې تر ده مشران هم وه .په ۱۹۴۶ م كال دكندهار د ښار دانتخابي ټولني رئيس او په ۱۹۴۷ م كال دكندهار د ښاروال مرستيال سو او له ۱۹۴۷ م كال وروسته هندوستان ته ولاړ ، هلته يې خپلو ځانګړو زده كړو او هم يې د پـښتـنواو پښتو په اړه ژورو څېړونو ته دوام وركړ ، چي د "لودي پښتانه" كتاب ، چي ۴۲۰ مخونه لري او "سوري پښتانه" چي 400 مخونه لري يې ښه بيلګي دي او د هغه تر څنګ يې هندي ژبي او ديوانګري ليكدود هم زده كړ او څه سانسكريټ او انګرېزي ژبي يې هم وكوتي . ۱۹۵۲ م كال د ويښو ځلميانو چي د افغانستان لومړي ملي ديموكرات ګوند و ، د استازي په توګه د كندهار د ښاريانو له خوا پارلمان ته انتخاب سو خو د كندهار د والي عبدالغني خان (قلعه بيګي ) او دچارواكو د مخالفت په وجه چي د ويښ ځلميانو او پوهاند رشاد سره يې درلود د دوی د رائيو صندوق د پوليسو له خوا ضبط او دی د ښاروالۍ له تالار او انتخاباتي حوزې را وايستل سو . په ۱۹۵۷ م كال د پښتو ټولني د مسلكي غړي او د كابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو د پوهنځي د استاد په توګه وپېژندل سو چي وروسته بيا دپښتو ټولني د رياست مسلكي مرستيال وټاكل سو ، سره له دې چي دكابل پوهنتون دژبو او ادبياتو د پوهنځي استاد هم و . په ۱۹۶۱ م كال دپخواني شوروي اتحاد د سنت پيرزبورګ (پخوانی لينن ګراد) د ښار د ختيځ پېژندني د انستيتوت د پښتو ژبي د استاد په توګه د دوه نيم كاله له پاره ولېږل سو ، چي وروسته افغانستان ته راستون او د كابل پوهنتون د ژبو، ادبياتو او بشري علومو د پوهنځي په پښتو څانګه كي استاد او بيا د دغه ډيپارټمنټ (څانګي) شف (مشر) سو او د وخت لوړه علمي رتبه پوهاندي يې په ۱۹۷۴ م كال كي تر لاسه كړه، څو د ۱۹۷۸ م تر پيښي وروسته ډېر ژر لزوماً تقاعد ته سوق سو، خو ددې رژيم د مخالفت سره ? سره يې خپلي علمي او فرهنګي اړيكيد كابل پوهنتون، د علومو د اكاډمۍ، علمي ټولنو او كړيو سره وساتلې.
استاد رشاد لومړی شعر په ۱۹۳۴ م كال پر ديارلس كلنۍ ويلی، خو د هغه لومړی شعر په ۱۹۳۸ م او لومړی څېړنيزه ليكنه په ۱۹۴۱ م كال د افغانستان په مطبوعاتو (طلوع افغان) كي خپاره سوي دي . دده په وينا له ۲۶ كلنۍ څخه د ويښو ځلميانو د نهضت غړی و
.

د جهاد پر مهال په كابل كي اوسېد، خو مضامين او شعرونه به يې په مستعارو نومونو چي په هيواد كي خطر ورته پيښ نه كړي، د كلفورنيا په Freedom، د ناروې په مجاهد ولس، جرمني ، اطريش، هند، پېښور ، كراچي او نورو ځايونو كي خپرېدل او چي ډېر به ترخه نه وو او په سمبوليك ډول به پكي د وخت رژيم غندل سوی او ملي جهاد او آزادي ستايل سوې وه ، په كابل كي هم خپرېدل او له ۱۹۹۲ م كال وروسته چي د تنظيمونو تر منځ د واك د ساتلو او يا تر لاسه كولو جګړه پيل او ايتنيكي اختلافاتو ته لمن ووهل سوه، د هغه دغندني په خاطر يې هم شعرونه او ليكني له هيواد څخه دباندي خپرې كړې او د طالبانو په وخت كي په يوه غونډه كي چي د ۱۹۷۹ م كال د روسانو د يرغل د غندني په اړه نيول سوې وه، استاد رشاد د سر په بيه د طالبانو سياست د روشنفكرانو او دموكراسۍ په اړه وغانده او دا يې په ډاګه وويل چي: " زه ويښ ځلمی وم ، يم او اوسم به او دا ګوند هغه ګوند دی چي په افغانستان كي يې د لومړي ځل له پاره د ډيموكراسۍ ږغ پورته كړ."

د ۱۹۷۸ م كال تر پيښي را وروسته بيا تر ۱۹۹۲ م كال پوري ددوی د سياستونو د غندني په اړه يوه شعري ټولګه د " ملحد شاهی" په نوم ليكلې او د ۱۹۹۲ م كال څخه بيا تر ۱۹۹۶ م كال پوري يوه شعري ټولګه د"تنظيم شاهی يا ملا شاهی" په نوم ليكلې او وروسته يې د طالبانو تر سقوط پوري د " طالب شاهی" په نوم يوه شعري ټولګه ليكلې ده . استاد د خپل ژوندانه تر وروستۍ شېبې پوري د زورواكۍ او بلواكۍ پر ضد شعرونه او ليكني كړي دي ، خو په ځرګند ډول ويلای سو چي ژوند يې تل د چاروااكو سره په مخالفت (اپوزيشن) كي تېر سوی دی ، چي نه يې ظالم واكمنان منلي او نه يې پردۍ واكمنی ، د ډيموكراټ او متعادل سياست خوښوونكی او ريفورمست دی . په دغه توپير چي په لږ آزاد چاپېريال كي يې مخالفت ځرګند او د اختناق په شرايطو كي به يې په پټه او سمبولونو مخالفت كاوه . له دا ټولو ستونځو سره سره چي په وار وار تعقيب سوی او تهديد سوی و او دا امكان يې هم تر لاسه كړی وو چي څو ځله په شخصي ډول جاپان ، هندوستان ، پاكستان ، يمن امريكا، سعودي عربستان او نورو هيوادونو ته سفرونه وكړي ، خو خپل هيواد يې خوشي نه كړ او بيرته خپل هيواد ته راستون سوی دی
.اروابښاد استاد به تل دا ويل چي " هيواد پر هر چا ګران دی خو ما ايمان پر راوړی ، كه مرم هم به دلته يم او كه ژوندی يم هم به دلته يم
.اروابښاد استاد په پاړسي، عربي، اردو، هندي، روسي او انګريزي ژبو پوهېدی او له تركي او جاپاني ژبو څخه يې هم استفاده كولای سوای . پر خپلي مورنۍ ژبي سربېره يې په پاړسي او اردو ژبو كي هم ښه عروضي شاعري كوله ، خو دوی خپل ټول ژوند د پښتو ادب د پرمختګ او ودي په لاره كي تېر كړی دی ، علمي ، ادبي او تاريخي اثار يې ليكلي ، د نړيوالو ادبياتو ژباړي يې كړي او زيات شعرونه يې زموږ شعري نړۍ ته ډالۍ كړي دي . ددوی (۴۹) اثار له سلګونو مقالو سره چاپ سوي دي چي په لاندي ترتيب سره ذكر كيږي :

چاپي اثار:
.1 ملحد شاهي يا كمونيست شاهي، شعري ټولګه ده چي د ۱۹۷۸ م كال د كودتا څخه تر ۱۹۹۲ م كال پوري د وخت د حكومت د كړنو غندنه پكي سوې ده.
.2 تنظيم شاهي ، شعري ټولګه ده چي د ۱۹۹۲م كال څخه تر ۱۹۹۶ م كال پوري د هغه وخت د حالاتو ذكر پكي سوی د ی
3 طالب شاهي ، شعري ټولګه ده، چي د طالبانو د حكومت وروسته چاپ سوې ده.
4 لودي پښتانه په 420 مخونو كي، د ۱۹۵۸ م كال چاپ
.5 .ډهلي د پښتنو په وخت كي، سريزه، د ۱۹۶۰ م كال چاپ
.6 .د ليو تولستوی درې نكلونه، (پښتو ژباړه) د ۱۹۶۱ م كال چاپ
.7 .د يولسم ټولګي پښتوقرائت ، د ۱۹۶۱ م كال چاپ
.8 .د دولسم ټولګي پښتوقرائت، د ۱۹۶۱ م كال چاپ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولـئ

9. د امير خسرو دهلوي هندي شاعري، د ۱۹۷۴ م کال چاپ
10. د خيرالبيان لغتونه، سريزه، په ۱۲۲ مخونوکي، د ۱۹۷۴ م کال چاپ
11. د خيرالبيان په سريزه کي دري مقالي، د ۱۹۷۴ م کال چاپ
12. د دولت لواني د ديوان سريزه ، د ۱۹۷۴ م کال چاپ
13. د واصل روښاني ديوان، سريزه او سمون، د ۱۹۷۴ م کال چاپ
14. پاڼي ني، ابنت ادهياى او په هغه کي پښتو کلمي، د ۱۹۷۵ م کال چاپ
15. ګيتانجلي (د رابندراناټ ټاګور اثر) د پښتو ژباړي سريزه، په ۱۰۴ مخونو کي ، د ۱۹۷۵ م کال چاپ
16. تاج (د رابندراناټ ټاګور اثر) د پښتو ژباړي سريزه، د ۱۹۷۵ م کال چاپ
17. د ګولډن شتت د فرهنګ سريزه، د ۱۹۷۷ م کال چاپ
18. د ګلشن روه سريزه په ۱۹۲ مخونو کي، د ۱۹۷۷ م کال چاپ
19. د احمدشاه بابا د پښتو اشعارو شرحه، سريزه او سمون، د ۱۹۷۷ م کال چاپ
20. د احمدشاه بابا د ديوان غورچاڼ، د ۱۹۷۸ م کال چاپ
21. بديع درسي کتاب ، د دارالمعلمين له پاره، د ۱۹۸۰ م کال چاپ
22. د ابن سينا مخارج الحروف پښتو ژباړه
23. د پښتو تجويدونو تاريخچه په ۷۴ مخونو کي، د ۱۹۸۰ م کال چاپ
24. د پښتو اسماء الحسنى سريزه، د ۱۹۸۰ م کال چاپ
25. دځمکنو ميا عمر، د ۱۹۸۱ م کال چاپ
26. د حاجي جمعه بارکزي د ديوان سريزه او لغتنامه، د ۱۹۸۲ م کال چاپ
27. پر افغانستان او بريتانوي هند باندي څو خبري، د ۱۹۸۲ م کال چاپ
28. د پټي خزاني فرهنګ، د ۱۹۸۳ م کال چاپ
29. در بارهٔ ظفرنامهٔ اکبري و ناظم آن، د ۱۹۸۶ م کال چاپ
30. د قصه خواني خونړی پيښه، د ۱۹۸۸ م کال چاپ
31. لس مقالي، د ۱۹۸۸ م کال چاپ .
32. سوبهاش چندرابوس، د ۱۹۸۹ م کال چاپ .
33. د زړه ويني (شعري ټولګه، د ۱۹۹۱ م کال چاپ
34. د افغانستان بدي ورځي (شعري ټولګه)، د ۱۹۹۴ م کال چاپ
35. لوليه پيغله (شعري ټولګه ، د ۱۹۹۵ م کال چاپ
36. کوروش خون آشام، ( پارسي نظم ، د ۲۰۰۰ م کال چاپ
37. د پښتنو غميزه (شعري ټولګه)، د ۲۰۰۱ م کال چاپ
38. خښمېدلي امريکا (شعري ټولګه)، د ۲۰۰۲ م کال چاپ
39. د واده کلى کربلا سو (شعري ټولګه ، د ۲۰۰۳ م کال چاپ
40. د ټودو وينو حمام افغانستان سو (شعري ټولګه)، د ۲۰۰۳ م کال چاپ
41. د افغانستان د تاريخي جغرافيي په اړه د علامه رشاد سره د مرکو ټولګه، (لومړی برخه)، د ۲۰۰۴ م کال چاپ
42. تېروتني (تاريخي او ادبي) لومړی برخه، د ۲۰۰۴ م کال چاپ
43. بې لاسو ښځه (د ليو تولستوی د اثر ژباړه)، د ۲۰۰۴ م کال چاپ
44. لوی احمدشاه بابا د خلګو له نظره ، ( د افغانستان د اکاډيمی له خوا)، د ۱۹۹۱ م کال چاپ
45. روڼي اوښکي (شعري ټولګه) په ۱۲۰ مخونو کي، د ۲۰۰۵ م کال چاپ
46. د ګلانو ګېډی (شعري ټولګه)، په ۴۶ مخونو کي، د ۲۰۰۵ م کال چاپ
47. د ښېنوا ياد، په ۴۵ مخونو کي ، د ۲۰۰۵ م کال چاپ
48. ادبي نثرونه، په ۶۱ مخونو کي ، د ۲۰۰۵ م کال چاپ
49. د کارنامو مېرمني، په ۶۸ مخونو کي ، د ۲۰۰۵ م کال چاپ
50. نصاب الصبيان، سريزه، 1982 م کال چاپ
51. فوايد فقيرالله، لغتنامه او تعليقات، 1980 م کال چاپ
52. د پښتو - جاپاني قاموس په باب
53. د حيات افغاني د پښتو ژباړي تصحيح، تحشيه او تعليقات
54. د حالنامي سريزه، تعليقات او لغتنامه
55. د پټي خزاني عروضي اړخ
56. د تاريخ سياح مسيحي کتنه او نظر
57. د زمانشاه او سلطان ټيپو سريزه
58. پښتانه شعراء (دريم ټوک) د ۲۷ شاعرانو د احوالو او اثارو پېژندنه، تصحيح او تنقيح
59. د ملاعبدالباقي د تبيين الواجبات سريزه .

ناچاپه اثار:

1. پښتانه شعراء په اردو ژبه کي ، په دغه اثر کي هغه پښتانه معرفي سوي دي چي په اردو ژبه يي شعرونه ويلي دي، په دغه اثر کي (۳۸۳) تنه شاعران راغلي دي ، ۸۵۰ مخونه لري
2. پښتانه شعراء په پارسي ژبه کي ، په دغه اثر کي هغه پښتانه معرفي سوي دي چي په پارسي ژبه يي شاعري کړې ده ، په دغه اثر کي (۲۰۰) تنه شاعران معرفي سوي دي ، ۷۰۰ مخونه لري
3. غالب جنګ غازي نواب احمدخان بنګښ او د هغه کورنی، ۱۹۰ مخونه لري.



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

4. آیا؟ په دغه اثر کي هغه تېروتني او تېر ایستني په ګوته سوي چي هغه په پښتو او پاړسي ادبیاتو او تاریخ کي د پاملرني وړ دي ، ۵۰۰ مخونه لري
5. د قومو او قبیلو په باب یادابښتونه، ۶۷۰ مخونه لري
6. مستشرقین، په دغه اثر کي (۲۰۰) تنه ختیځ پوهان چي د افغانستان، پښتو او پاړسي ژبو په باب یې څېړني کړي ، معرفي سوي دي ، ۵۴۰ مخونه لري
7. امین الملك ګل محمدخان غوریاخېل بابړ او د هغه کورنۍ چي د استاد له نیکونو څخه دی ، ۲۴۰ مخونه لري
8. ملي قهرمان غازي محمداکبرخان ، ۲۳۰ مخونه لري
9. سوري پښتانه، ۴۰۰ مخونه لري
10. د کندهار د مدرسو تدریسي نصاب، ۴۰۰ مخونه لري
11. حضرت ابوبکر صدیق رض ، ۲۳۰ مخونه لري
12. په زړه پاړسي ، پهلوي او اویستا کي پښتو کلمې، (د پوهنتون د ماسترۍ په نصاب کي شامل اثر) ۳۸۰ مخونه لري
13. د کندهار زیارتونه، ۷۰۰ مخونه لري
14. ادبي قاموس، دغه اثر شپږ ټوکه دی ، لومړی ټوک (۱۲۰۰) مخونه، دوهم ټوک (۶۳۰) مخونه، دریم ټوک (۱۲۵۰) مخونه، څلورم ټوک (۶۰۰) مخونه، پنځم ټوک (۶۵۰) مخونه او شپږم ټوک (۱۲۰) مخونه لري.

15. پښتانه مصنفین، دغه اثر درې ټوکه دی، لومړی ټوک (۱۰۰۰) مخونه، دوهم ټوک (۷۶۰) مخونه او دریم ټوک (۵۸۰) مخونه لري
16. جغرافیایي یادابښتونه، دغه اثر دوه ټوکه دی ، لومړی ټوک (۸۰۰) مخونه او دوهم ټوک (۳۶۰) مخونه لري
17. د کندهار تاریخي یادابښتونه، دغه اثر دوه ټوکه دی ، په لومړي ټوک کي مخکي تر مغلو حالات بیان سوي دي او (۹۷۰) مخونه لري او په دوهم ټوک کي وروسته تر مغلو حالات بیان سوي دي چي (۱۰۴۰) مخونه لري .

18. د احمدشاهي عصر نومیالي، دغه اثر هم دوه ټوکه دی، لومړی ټوک (۵۰۰)مخونه لري او دا برخه د احمدشاهي شاهنامې د تعلیقاتو په نامه راغلې ده . دوهم ټوک (۴۲۰) مخونه لري چي په دې برخه کي له احمدشاهي شاهنامې پرته د نورو نومیالیو ذکر راغلی دی
19. پښتانه مشاهیر، درې ټوکه دی ، لومړی ټوک (۱۵۰) مخونه ، دوهم ټوک (۲۰۰) مخونه او دریم ټوک یې تر لاس لاندي و لړ لیکل سوی دی
20. د طریقت شجرې ، د هغو طریقو په باب چي په افغانستان او پښتنو کي مشهوري دي ، ۲۰۰ مخونه لري
21. نسبي شجرې، دغه شجرې پنځه ټوکه دي، لومړی ټوک په هندوستان کي د پښتنو نوابیو او نامتو کورنیو په اړه دی، (۲۷۰) مخونه لري، دوهم ټوک د سدوزو پاچاهانو، شهزاده ګانو او سردارانو په اړه دی ، (۹۰) مخونه لري، دریم ټوک د محمدزیو پاچاهانو ، شهزاده ګانو او سردارانو په اړه دی، (۱۸۵) مخونه لري ، څلورم او پنځم ټوکونه د پښتنو قومو او قبیلو په اړه عمومي شجرې دي، چي څلورم ټوک (۳۲۰) مخونه او پنځم ټوک (۱۲۰) مخونه لري
22. سل متله په اوو ژبو، دغه اثر په څلورو ټوکونو کي دپښتو، پاړسي عربي، انګریزي، روسي، اردو او ترکي ژبو ورته متلونه راوړي دي
23. ۲۰۰۰ دوه زره روسي متله په پښتو ژبه ، دغه اثر څلور ټوکه دی، لومړی ټوک (۳۶۵) مخونه ، دوهم ټوک (۴۵۰) مخونه، دریم ټوک (۴۲۰) مخونه او څلورم ټوک (۴۲۵) مخونه لري
24. د خوشال فرهنګ، دغه اثر اووه ټوکه دی، لومړی ټوک طب نامه (۴۰۰) مخونه، دوهم ټوک بازنامه (۲۶۰) مخونه، دریم ټوک رباعیات او قطعات (۲۸۰) مخونه، څلورم ټوک دستارنامه (۴۸۰) مخونه، پنځم ټوک غزلیات او قصاید (۵۲۰) مخونه، شپږم ټوک غزلیات او قصاید (۳۲۰) مخونه، اووم ټوک غزلیات او قصاید (۳۶۰) مخونه لري
25. د پټي خزانې فرهنګ، دوهم ټوک، (۴۰۰) مخونه لري
26. د ګلشن روه لغتنامه ، (۸۰۰) مخونه لري
27. نواب حافظ رحمت خان بړیڅی او د هغه کورنۍ (د افغانستان د علومو اکاډیمۍ له خوا تر چاپ لاندي دی)
28. د فرهنګونو په باب، په دغه اثر کي هغه ټول فرهنګونه چي په ختیځ کي لیکل سوي ، معرفي سوي دي ، ترتیب یې په لاندي ډول دی :
پښتو فرهنګونه (د الفبا په ترتیب)
پاړسي فرهنګونه (د الفبا په ترتیب)
عربي فرهنګونه (د الفبا په ترتیب)
ترکي فرهنګونه (د الفبا په ترتیب)
? هندي فرهنګونه (د الفبا په ترتیب).
29. بدیع، (۷۵۰) مخونه لري
30. بیان، (۵۰۰) مخونه لري
31. قافیه، (۶۵۰) مخونه لري
32. عروض، دغه اثر څلور ټوکه دی، لومړی ټوک (۱۱۳۰) مخونه، دوهم ټوک (۳۶۸) مخونه ، دریم ټوک (۴۴۰) مخونه او څلورم ټوک (۹۵) مخونه لري
33. معاني، (۶۵۰) مخونه لري
34. نقد، د پښتو، پاړسي ، او عربي ادبیاتو په تاریخي او علمي برخو کي، (۵۰۰) مخونه لري
35. مکتبي قاموس، په دغه اثر کي د ښوونځیو د کتابونو(۶۰۰۰) لغاتونه تشریح سوي دي
36. په ګلشن روه کي د بابو جان منتخبات نثر نه دی، (د پوهاندی اثر) ۲۴۰ مخونه لري
37. لاله، (شعري ټولګه)، (۱۵۰) مخونه لري
38. چاپ سوي څلوېښت حدیثه
39. د محبت نغمې، (شعري ټولګه)، (۱۵۰) مخونه لري
40. نیم دید، (شعري ټولګه)
41. د شعرونو پنځه ټولګي، لومړۍ ټولګه (۶۲) مخونه، دوهمه ټولګه (۵۰) مخونه، دریمه ټولګه (۱۲۶) مخونه، څلورمه ټولګه (۶۲) مخونه او پنځمه ټولګه (۱۸۰) مخونه لري
42. شمس الکفات خواجهٔ بزرګ احمد بن حسن میمندي، ، (۱۰۵) مخونه لري ، (نیمګړی اثر)
43. شهید سردار محمدداود، ۱۸۰ مخونه لري ، (نیمګړی اثر).
44. امان الله شاه غازي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

45. ۱۰۰ (زاړه لغاتونه)
46. د سنسکریت ژبي ګرامر، (۷۴۰) مخونه لري
47. د جاپاني ژبي ګرامر او معلومات، دغه اثر دوه ټوکه دی، لومړی ټوك (۱۳۰) مخونه او دوهم ټوك (۱۶۵) مخونه لري
48. د روسي ژبي ګرامر، دغه اثر هم دوه ټوکه دی، لومړی ټوك (۱۶۰) مخونه او دوهم ټوك (۱۷۰) مخونه لري
49. په پښتو کي مناظري، (۷۵) مخونه لري
50. الفنامي، (۸۵) مخونه لري
51. د پښتو نظم عروضي سیستم، (۴۵۰) مخونه لري
52. په پښتو کي د نظم ډولونه، (۲۹۰) مخونه لري
53. سبك پېژندنه، (۲۰۰) مخونه لري
54. د ډورن په پښتو ډکشنري کي تېروتني
55. تېروتني او تېر ایستني، په پښتو، دري او عربي کتابونو کي
56. پښتو نکلونه او پښتو کیسي
57. ځیني ادبي خبري، (۲۰۰) مخونه لري
58. د جاپان سفرنامه (یون لیك)، (۹۰) مخونه لري
59. د امریکا سفرنامه (یون لیك)، (۱۰۰) مخونه لري
60. د یمن سفرنامه (یون لیك)، (۱۳۵) مخونه لري
61. بریښي پښتانه، (۱۲۰) مخونه لري
62. غازي ایوب خان، (نیمګړی اثر)
63. برمکیان، (۲۲) مخونه لري (نیمګړی اثر).
64. زړه پارسي (فُرس قدیم)، (۵۰) مخونه لري
65. د سوسیالوجی په اړه یادښتونه، (۱۲۰) مخونه لري
66. پښتانه شعراء په عربي ژبه کي، (نیمګړی اثر).
67. د پښتو کتابو کاتبان، (۱۲۰) مخونه لري
68. تعلیقات ، (۶۰) مخونه لري
69. سریاني قصیده، (۴۰) مخونه لري
70. د خوشال خان یاد، (۱۰۰) مخونه لري
71. عربي ګرامر، (۱۲۰) مخونه لري
72. شیخ قاسم سلیماني، (۱۲۰) مخونه لري
73. د تحفه القاسمي په اړه نیمګړي لیکنه
74. دخوستي، تني، ګوربزي لهجو ځیني کلمات
75. رقوم نویسي
76. پنځه کتابونه د مختلفو یادښتونو، (۶۰۰) مخونه لري
77. د محاربهٔ کابل په اړه نیمګړي تعلیقات
78. پردي دودونه، (۲۰) د مخونه لري
79. د فواید دعوا لغتونه، (۱۵۰) مخونه لري
80. وحدة الوجود، (۴۰) مخونه لري

که دودی ۸۰ ناچاپ اثار د ټوکونو په ډول وشمېرو چي ما ته څرګند دي (۱۱۶) ټوکه ناچاپ اثار د کتابونو په ډول او په لسهاوو ناچاپه مقالي او نور اثار يي هم سته ، چي ډېري څېړني ته اړتیا لري او هغه چي موږ ته څرګند دي ، په ټولیز ډول د استاد (۵۹) اثار او په سلهاوو مقالي او شعرونه چاپ او (۸۰) اثار او په لسهاوو مقالي او شعرونه يي ناچاپ پاته دي.

اکاډیمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد د خپل استعداد، علاقي، پرله پسي زیار او مطالعي په نتیجه کي عالم، عامل او معلم پېژندل سوی او د پښتو ادبیاتو د تاریخ د معاصري دوري لیکوال اروابښاد کاندید اکاډیمیسن سر محقق محمدصدیق روهي د استاد په اړه لیکي :

" پوهاند رشاد په تاریخ، ادبپوهنه او لغت پوهنه کي د تبحر درلودلو له امله د روښانفکرانو له خوا د"فاضل استاد" لقب ګټلی دی . د ده د معلوماتو پراختیا او قوي حافظه اورېدونکی په حیرت کي اچوي.

فاضل استاد په اوسني وخت کي د پښتو او پارسي ادب د کلاسیکو متونو د مشکلاتو د حل کولو له پاره یوه مهمه مرجع ګڼل کیږي.

استاد رشاد نه یوازي د خپل علمي تبحر له کبله، بلکي د تقوی او د نفس د مناعت په درلودلو سره د پوهانو او روښانفکره قشر په منځ کي خاص محبوبیت ګټلی دی".

هېره دي نه وي چي فاضل استاد ته د ۱۳۸۲ ل کال د مرغومي پر نهه ویشتمه په جلال آباد ښار کي دده په ویاړ جوړ سوي سیمینار په ترځ کي د (علامه) بېساری درونږ لقب ورکړه سو.

دا ستر پوهاند او نابغه علامه رشاد بابا د ۱۳۸۳ ل کال د لړندی د میاشتي پر یوولسمه (۱۱مه) نېټه، د چهارشنبي په ورځ د کابل په څلورسوه بستریز روغتون کي د ماپښین پر دوولس نیمو (۱۲:۳۰) بجود زړه د ناروغی له امله په حق ورسېد. اناالله و انا الیه راجعون



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

**عنایت الله رشید**

د ثناء الله ثنا او په ۱۹۷۸ز کال کې د اطلاعاتو او کلتور د مرستیال وزیر امین افغانپور ورور. په کابل او...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلی رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ